## د افغانستان اسلامي جمهوريت
## د کابينې مصوبه
## (۴) ګڼه
## نېټه ۱۳۹۹/۱/۲۸

د افغانستان اسلامي جمهوريت د ۱۳۹۹ کال د کابينې څلورمه فوق العاده غونډه د جلالتمآب جمهور رئيس محمد اشرف غني په مشرۍ د وري په ۲۸ نېټه د پنجشنبې ورځ له غرمې وروسته په ارګ کې جوړه او دغه پرېکړې يې وکړې.

**د جلالتمآب ولسمشر پيليزې خبرې او له اجنډا مخکې مهمې موضوع ګانې:**

- د هيـواد دفـاعي او امنيتـي ځواکونـو شـهيدانو روح تـه دعـا او د هيـواد د دفـاع او د هيوادوالـو امنيـت ټينګښـت له امله د هغوی ځخه ستاينه؛
- د کرونـا ويـروس د مبـارزې پـه ډګـر کـې د عـامې روغتيـا وزارت رهـبرۍ، کـارکوونکو او روغتيـايي پرسـونلو شـپې او ورځې کړاوونو ګاللو څخه مننه کول؛
- د کرونا ويروس د مبارزې په ډګر کې د هيواد ټولو ولايتونو واليانو کړاوونو ګاللو څخه مننه کول؛

**د اجنډا لومړی موضوع:** د کرونا ويروس سره د مبارزې په موخه د سرچينو موندلو لپاره د افغانستان اسلامي جمهوريت طرحې او په ليکل شوې طرحه کې د ځانګړو پروګرامونو لپاره د کاري ډلو جوړولو باندې بحث؛

**وړاندې کوونکی:** ښاغلی د جمهوري رياست لومړی مرستيال

| | **د کابينې پرېکړه :** | موده |
|---|---|---|
| ۱ | ا.ا.ج کابينې د کرونا ويروس سره د مبارزې په موخه د سرچينو موندلو لپاره د افغانستان اسلامي جمهوريت طرحه او په ليکل شوې طرحه کې د ځانګړو پروګرامونو لپاره د کاري ډلو جوړول د بيا يو ځای کيدو پروګرام په زياتوالي سره د ملي طرحې اوبرنامې په توګه په اصولو کې تصويب کړه؛ ددې برنامې پرمختيا او لا پياوړتيا په موخه د کابينې غړو او واليانو څخه يې غوښتنه وکړه، چې د نويو نظرونو شتون په صورت کې ټول خپل نظرونه او وړانديزونه په ليکلي توګه د حکومت رهبرۍ ته وړاندې کړي. | دوامداره (د کرونا ويروس خطر له منځه وړلو پورې) |

**د اجنډا دويمه موضوع:** د کرونا (کوويډ ۱۹) ويروس خپريدو مخنيوي په موخه د کاري رژيم تنظيم کړنلارې (۱) ګڼه ضميمې تعديل طرحه؛

**وړانـدې کـوونکی:** ښـاغلی د جمهـوري رياسـت دويـم مرسـتيال او ښـاغلی د اداري اصـلاحاتو او ملکـي خـدمتونو خپلـواک کميسيون لوی رئيس؛

| | **د کابينې پرېکړه :** | موده |
|---|---|---|
| ۲-۱ | د کرونا (کوويډ ۱۹) ويروس خپريدو مخنيوي پـه موخـه د کـاري رژيـم تنظيم کړنلارې (۱) ګڼـه ضميمې تعديل طرحه د درې اوونيو رخصتيو پـه غځولو سره (د ۱۳۹۹ غوايي مياشـتې تـر ۲۰) پـه مرکز کې او د غير رسمي تفريحي سفرونو منع کولـو او د اړينو او چټکو شرايطو لانـدې د رسمي سفرونو اجازه سره تصويب ده؛ اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو خپلواک کميسيون تـه دنـده سپارل کيږي، چې د عامې روغتيا وزارت په مرسته د هيوادوالو ستونزو او اوسنی ناڅکو شرايطو تـه په کتو سره دولتي ادارو اړتيا او په ځانګړي توګه د اړينو کړنو شتنې په پام کې نيولو سره د رخصتي غځولو ځرنګوالي اغيزمنتيا د هرې اوونۍ په پای کې تر ارزونې لاندې نيسي او راپور يـې جمهـوري رياست لوړ مقام ته وړاندې کړي. | درې اوونۍ |
| ۲-۲ | وزارتونه او دولتي ادارو ته دنده سپارل کيږي چې؛ اداري اصلاحاتو او ملکـي خـدمتونو خپلـواک کميسيون په مرسته دې د کرونا (کوويډ ۱۹) ويروس خپريدو مخنيوي پـه موخـه د کـاري رژيـم تنظيم کړنلارې (۱) ګڼه ضميمې تعديل طرحې تـه پـه کتـو رخصتيو ورځـو کـې هيوادوالـو تـه د خدمت وړاندې کولو ځرنګوالي او د اداري اړينو کړنو ترسره کولو په موخه د دريو ورځو په اوږدو کې يو روښانه ميکانيزم چمتو او عملي کړي. | درې ورځې |

| | د کابینې پرېکړه : | موده |
|---|---|---|
| ۲-۳ | د کرونا (کووېډ ۱۹) وېروس خپرېدو مخنیوي په موخه د کاري رژیم تنظیم کړنلارې (۱) گڼه ضمیمې تعدیل طرحې ته په کتو سره د پوهنتونونو او لوړو زده کړو دولتي او خصوصي مؤسسو رخصتیو په اړوند د لوړو زده کړو وزارت غوښتنه د ۱۳۹۹ د( غوايي میاشتې تر۲۰) مې نیټې تصویب ده؛ لوړو زده کړو وزارت دې د پرېکړې سره سم کړنې ترسره کړي. | عاجل |
| ۲-۴ | د هیواد په کچه د ټولو ښوونځیو رخصتي د دې مصوبې (۲ -۳) بند سره سم ۱۳۹۹ کال (غوايي میاشتې ۲۰) مې نیټې پورې تصویب ده؛پوهنې وزارت دې د پلي کېدو په اړه گامونه واخلي. | عاجل |

**د اجنډا درېیمه موضوع:** دهیواد د والیانو په استازیتوب د فاریاب والي خبرې او وړاندیزونه؛

**وړاندې کوونکی:** ښاغلی د فاریاب ولایت والي؛

| | د کابینې پرېکړه : | موده |
|---|---|---|
| ۳ | هغه شمیر ولایتونه، چې له دې وروسته د عوایدو لوړولو، خصوصي سکتور ته د پانگې اچونې زمینې برابرولو، د صادراتو کچې لوړولو او کارموندنې په برخه کې مخکښ او یا اغیزمنې لاسته راوړنې ولري؛ د هڅونې پیسو ځانگړي کولو په اړوند د فاریاب والي وړاندیز تصویب ده؛ سیمه ییزو ارگانونو ادارې ته دنده سپارل کیږي، چې د هڅونې پیسو ورکړې معیارونو ټاکلو په اړه د بحث او نظرونو تبادلې په موخه د ویډیویي کنفرانس له لارې د ولایتونو والیانو سره د حکومت د رهبري ځانگړې غونډه تنظیم او جوړه کړي. | یوه اوونۍ |

**د اجنډا څلورمه موضوع:** په افغانستان کې د کرونا وېروس د مبارزې په موخه د عامې روغتیا وزارت دویمو واحدونو ته د استثنایي مالي – اداري واکونو سپارلو لایحه؛

**وړاندې کوونکی:** ښاغلی د عامې روغتیا وزیر؛

**موخې:** د کووېډ ۱۹ ناروغانو وقایې او ساتنې په موخه د روغتیایي کارکوونکو گمارنې لړۍ چټکوالی، د عامې روغتیا او دویمو واحدونو له لارې د مالي مدیریت لړۍ چټکوالی او د کووېډ ۱۹ ناروغانو وقایې او ساتنې په موخه د اړتیا وړ څیزونو تدارک لړۍ چټکوالی.

| | د کابینې پرېکړه : | موده |
|---|---|---|
| ۴-۱ | په افغانستان کې د کرونا وېروس د مبارزې په موخه د عامې روغتیا وزارت دویمو واحدونو ته د استثنایي مالي – اداري واکونو سپارلو لایحه په اصولو کې تصویب ده؛ عامې روغتیا وزارت ته دنده سپارل کیږي، چې اړونده بنسټونو په مرسته، د «کارکوونکو» کلمه دې په «کارکنانو» او «انفصال» کلمه په « انفکاک» او د گمارنې روښانه پلان جوړولو په اړه د یوې مادې زیاتوالي سره لایحه سمه او تصویب وروسته دې عملي کړي. | عاجل |
| ۴-۲ | عامې روغتیا وزارت ته دنده سپارل کیږي، چې د هڅونې ځانگړو امتیازاتو په پام کې نیولو سره ولایتونو ته د متخصصو کادرونو نیولو تمرکز ته په کتو په افغانستان کې د کرونا وېروس د مبارزې په موخه د عامې روغتیا وزارت دویمو واحدونو ته د استثنایي مالي – اداري واکونو سپارلو لایحې پلي کېدو په موخه ژر تر ژره د گمارنې روښانه پلان جوړ او د کابینې بلې غونډې ته دې وړاندې کړي. | عاجل |
| ۴-۳ | عامې روغتیا وزارت ته دنده سپارل کیږي، چې د مالیې وزارت په مرسته په افغانستان کې د کرونا وېروس د مبارزې په موخه د عامې روغتیا وزارت دویمو واحدونو ته د استثنایي مالي – اداري واکونو سپارلو لایحې پلي کېدو د بودجې موندلو او ژمنو اندازې څرنگوالي ته په کتو د مالي روڼتیا او لگښتونو پلټنې په موخه روښانه میکانیزم جوړ او د کابینې بلې غونډې ته وړاندې کړي. | عاجل |
| ۴-۴ | عامې روغتیا وزارت ته دنده سپارل کیږي، چې د دې مصوبې (۴- ۱) بند کې لیکل شوې لایحې سپارل شویو واکونو ته په کتو د اوسنیو شرایطو په پام کې نیولو سره د جنسونو په رانیولو لومړیتوبونه په نظر کې ونیسي. | عاجل |

**د اجنډا پنځمه موضوع:** د کووید ۱۹ د بیړني حالت مدیریت په موخه دعامې روغتیا وزارت (لنډمهاله تشکیل) جوړولو طرحه؛

**وړاندې کوونکی:** ښاغلی د عامې روغتیا وزیر؛

**موخې:** د سرچینو څخه د اغیزمنې ګټې اخیستنې یوې تازه عملیاتي، همغږې لارې رامنځته کول او د کرونا وېروس سره د مبارزې ترڅنګ د روغتیایي سکتور په ستراتیژیکو سیمو تمرکز؛

| | د کابینې پرېکړه : | موده |
|---|---|---|
| ۵ | د کووید ۱۹ د بیړني حالت مدیریت په موخه دعامې روغتیا وزارت (لنډمهاله تشکیل) جوړولو طرحه په اصولو کې تصویب ده؛ عامې روغتیا وزارت ته دنده سپارل کیږي، چې د کرونا وېروس سره د مبارزې واحد لپاره د وړاندیز شوي جوړښت کې د مرکز په کچه « همغږې کوونکي» کلمه په «د کرونا پر وړاندې د مبارزې رئیس»، د ولایتونو په کچه «د کرونا پر وړاندې د مبارزې ولایتي رئیس»او د ولسوالیو په کچه« د کرونا پر وړاندې د مبارزې آمر» سمه؛ همدارنګه د کارکنانو د ګمارنې بودجې او معاش اندازې په اړه د مالیې وزارت هوکړه ترلاسه او د پلي کیدو په اړه دې ګامونه واخلي. | عاجل |

**د اجنډا شپږمه موضوع:** په نورستان ولایت کې د دولتي لوړو زده کړو مؤسسې جوړول؛

**وړاندې کوونکی:** ښاغلي دلوړو زده کړو وزارت سرپرست؛

| | د کابینې پرېکړه : | موده |
|---|---|---|
| ۶-۱ | په نورستان ولایت کې د دولتي لوړو زده کړو مؤسسې جوړول تصویب دي؛<br>مالیې وزارت ته دنده سپارل کیږي، چې د لوړو زده کړو وزارت په مرسته د نورستان ولایت دولتي لوړو زده کړو مؤسسې کمپلکس اړتیا وړ بودجه ۱۴۰۰ مالي کال ملي بودجه کې په پام کې ونیسي. | - |
| ۶-۲ | د ښارجوړولو او ځمکو وزارت ته دنده سپارل کیږي،چې د نورستان ولایت د لوړو زده کړو مؤسسې اړتیا وړ ځمکه پیدا او له پړاوونو تیره کړي. | دری میاشتې |

**د اجنډا اوومه موضوع:** بیلابیلې موضوع ګانې او پرېکړې:

| | د کابینې پرېکړه : | موده |
|---|---|---|
| ۷-۱ | د ا.ا.ج کابینې په تېرګار سره د کابینې غړو او والیانو څخه غوښتنه وکړه، چې د ا.ا.ج کابینې۱۳۹۹ کال (۲) ګڼې مصوبې (۴-۱۳) بند په پام کې نیولو ترڅنګ یو ځل بیا د مرستو اخیستلو او ترلاسه کولو په موخه دې له نړیوالو بنسټونو او مؤسساتو سره د تړونونو لاسلیک کولو څخه نیغ په نیغه ډډه وکړي او د یادو بنسټونو لخوا د مرستې وړاندیز په صورت کې دې د مرستو تنظیم او همغږې په موخه دې د حکومت رهبري ته راجع؛ ترڅو په اړه یې ا.ا.ج کابینې تصویب صورت ونیسي. | دوامداره |
| ۷-۲ | مالیې وزارت ته دنده سپارل کیږي، چې د وزارتونو او دولتي ادارو پورې اړونده پرمختیایي پروژو پلي کیدو څرنګوالی ژر تر ژره وڅیړي او د یادو پروژو نه پلي کیدو په صورت کې دې بودجه نورو پروژو ته تعدیل کړي. | عاجل |
| ۷-۳ | سیمه ییزو ارګانونو اداري ته دنده سپارل کیږي، چې د ولایتونو والیانو په مرسته د هغو پیسو څخه د ګټې اخیستنې اغیزمن روښانه میکانیزم، چې د حکومت لخوا ولایتونو ته د کرونا وېروس سره د مبارزې په موخه لیږدول کیږي، جوړ او پلي کړي. | عاجل |
| ۷-۴ | ولایتونو والیانو ته دنده سپارل کیږي، چې د عامې روغتیا وزارت په مرسته په خپلو ولایتونو کې د کرونا وېروس اخته ناروغانو درملنې په موخه د ښوونځیو، لیلیو او نورو امکاناتو ظرفیت څخه په ګټې اخیستنې سره د اړتیا وړ د بسترونو شمیر مشخص او د تصمیم نیونې په موخه دې کرونا وېروس خپریدو مخنیوي بیړنۍ کمیټې ته د ارقامو سره وړاندې کړي. | عاجل |

| د کابینې پریکړه : | | موده |
|---|---|---|
| ۷ -۵ | پوهنې وزارت ته دنده سپارل کیږي، چې د احصائیې او معلوماتو ملي ادارې په مرسته هیواد مرکز، ولایتونو او ولسوالیو ښوونځیو کې GPS لګولو پراختیا په اړه چټک ګامونه واخلي. | عاجل |
| ۷ -۶ | عدلیې وزارت ته دنده سپارل کیږي، چې د لوړو زده کړو او مالیې وزارتونو او د لوړو زده کړو په چارو کې د ولسمشر ستر سلاکار په مرسته د هیواد دپوهنتونو مالي خپلواکي مقررې تعدیل طرحه جوړه او د کابینې نورو غونډې ته دې وړاندې کړي. | یوه میاشت |
| ۷ -۷ | د اقتصادي پراختیا، سوداګریزو او بیوزلي کمولو په چارو کې د ولسمشر ځانګړی استازي دفتر ته دنده سپارل کیږي، چې د عامې روغتیا وزارت، سیمه ییزو ارګانونو اداري او ملي پرمختیایي شرکت او نورو اړونده بنسټونو په مرسته په هیواد کې په کرونا د اخته ناروغانو درملنې لپاره د سل زره بستره چمتوالي په موخه د خصوصي سکتور او مدني ټولنو مرستې راجلب کړي. | عاجل |

- د مصوبې پلي کېدو څخه څارنه د جمهوري ریاست عالي مقام دفتر لوی ریاست د کابینې چارو سمون ریاست په غاړه ده.

**محمد اشرف غني**

**د افغانستان اسلامي جمهوریت رئیس**